دافغانستان اسلامي امارت
د تخنيکي او مسلکي زدکړو اداره
برنامو د تحقيق او تضمين کيفيت ریاست
اجرائيه مديريت

Islamic Emirate of Afghanistan
Technical & Vocational Education & Training

امارت اسلامی افغانستان
اداره تعلیمات تحنیکی ومسلکی
ریاست تحقیق برنامه و تضمین کیفیت
مدیریت اجرائیه

| د برنامو دتحقيق او تضمين کيفيت رياست کلنی راپور او لاسته راوړنې |
| --- |
| 1. د کرنې او حسابداري په برخه کې د ملي او بين المللي ستندردونه را ټول شوي او بيا له مقايسې وروسته ترجمه شوي دي چې په لاندې ډول دي: حيواني علوم، باغداري، کرنيز تجارت، کرنيزې طبيعي سرچينې، د کرنې ميخانيکي ټکنالوژي، محاسبه، بانکداري او داسی نور چې داداري د تعليمي نصاب د ضعف او قوت نقطو پيداکول او هغه اصلاح کول. |
| 2. د سيمې هيوادونو په سطحه د (TVET) د کيفيت تضمينولو په موخه د لسو علمي منابعو مطالعه شوې چې له دې ډلې د دوو علمي منابعو د ترجمې په نتيجه کې د تضمين کيفيت چوکاټ چمتو شوی دی. چې په دی سره به دمعتبر او دقيق معلوماتو را ټولول د آمريت لپاره دتقنيني اسنادو د ترتيب په موخه او همدارنگه د فعاليتونو د چوکات بندی ا و دامريت د کارونو په درست ډول مخ ته بيول. |
| 3. د تعليم، مسلک او تحصيل تر عنوان لاندې نندارتون ترسره شوی دی: دا نندارتون چې د معارف، لوړو زدکړو ماليې وزارتونو او سوداگريزې خونې او خصوصي سکتور په ملاتړ جوړ شوی و، په کانتينټل هوټل کې د درې ورځو لپاره په ۱۴۰۱/۱۲/۱۱ – ۱۴۰۱/۱۲/۱۳ نيټه ترسره شو چې د نندارتون په جريان کې د جديد الشمولانو د جلب اوجذب په موخه د تخنيک او مسلک په برخه کې گډونوالو ته د علم او پوهې گټې بيان شوې. |
| 4. نمايشگاه تحت عنوان تعليم، مسلک و تحصيل تدوير يافته است: اين نمايشگاه به حمايت و همکاری وزارت های معارف، تحصيلات عالی، ماليه و اتاق های تجارت و سکتور خصوصی در هوتل کانتينتال کابل بتاريخ ۱۴۰۱/۱۲/۱۱ – ۱۴۰۱/۱۲/۱۳ برای سه روز تدوير يافت و در جريان اين نمايشگاه جهت جلب و جذب جديدالشمولان در مورد اهميت تعليمات تخنيکی، مسلکی و حرفوی به اشتراک کننده گان اگاهی لازم داده شد. |
| 5. د تخنيکي او مسلکي زدکړو (TVET) ښوونيز نظام د پياوړتيا او پراختيا او په افغاني ټولنه کې يې د ارزښت بيانولو په موخه يوه طرحه ترتيب شوې چې د کارونو د زياتوالي له امله يوازې لس سلنه برخه يې پاتې او نوروه بشپړه شوې ده. |
| 6. د نوښت مرکز ايجاد شوی دی: په افغانستان کې لومړی ځل په (۱۴۴۴/۳/۲۲) نيټه په دولتي سطحه د نوښتگرو او مخترعانو د جذب او تشويق لپاره دا مرکز ايجاد شو چې په ملي او بين المللي سطحه يې توجه راخپله کړه چې د افغانستان جوړ نوی موټر يې عمده بېلگه يادولای شو. |
| 7. مرکز نوآوری ايجاد گرديده است: بتاريخ (۱۴۴۴/۳/۲۲) در افغانستان برای نخسين بار جهت جذب و تشويق نوآوران و مخترعان يک آدرس بنام مرکز نوآوری ايجاد شد که خوشبختانه به سطح ملی حمايت شد و فعاليت های آن نيز به سطح منطقه و جهان مورد توجه قرار گرفته است که مثال عمده آن موتر جديد ساخت افغانستان را نام برده می توانيم. |
| 8. د نوښت مرکز پاليسي، مقرره او طرزالعمل ترتيب شوي دي: د چارو د تنظيم په موخه دغو تقنيني اسنادو ته اړتيا وه چې له نيک مرغه اوس ترې استفاده کيږي. |
| 9. پاليسی، مقرره و طرزالعمل مرکز نوآوری ترتيب شده است: برای تنظيم بهتر امور مربوطه برای تهيه اين اسناد نياز بود و خوشبختانه که اکنون از آن استفاده به عمل می آيد. |

10. د نوښت او اختراع په برخه کې ( ۳۴) پروژو جذب او ثبت شوي دي: د ایجاد له نیټې را پدیخوا تر اوسه پورې د تخنیک برخه کې یاد شمېر پروژې جذب شوي چې ځینې یې د مالي او معنوي ملاتړ جوګه هم ګرځېدلي دي.

11. به تعداد ۳۴ پروژه نوآوری و اختراع جذب و ثبت گردیده است: از تاریخ ایجاد مرکز نوآوری تا کنون به تعداد یاد شده پروژه جذب و ثبت گردیده که برخی آن مورد حمایت مالی و معنوی نیز قرار گرفته است.

12. د نوښت حمایوي صندوق د ایجاد په موخه طرحه ترتیب او وړاندې شوې ده: د نوښت مرکز اوسمهال د مالي ملاتړ ترڅنګ د ماشین الاتو او تجهیزاتو د نشتوالي له ستونزو سره مخ دی او اوسمهال اړوند نوښتګر خپل کارونه په ازاد بازار کې ترسره کوي، نو له همدې امله چې کارونه چټک او کیفیت یې سم وي، د یاد صندوق د ایجاد لپاره مو طرحه ترتیب او مقام ته وړاندې کړه.

13. د APA (منبع لیکنې) سند ژباړه: د تحقیق او له اړوندو منابعو څخه د استفادې په برخه کې بیلابېلې لارې او طریقې کارول کېدلې، نو د دې لپاره چې د علمي تحقیق او له اړوندو منابعو څخه په معیاري ډول یادون وشي، نو د واحد فارمټ د وړاندیز په موخه د یاد منبع لیکنې سند ژباړه مو اړینه وبلله چې یوه برخه یې ژباړل شوې او په رڼا کې به یې د اړوندو اصولو مطابق یو سند چمتو شي.

14. د تعلیمي نصاب د تولیزو مصارفو ارزونې په اړه طرحه ترتیب او وړاندې شوې ده: د تعلیمي نصاب د ښوونیزو موادو، کتابونو او ممدونو د تدوین، تألیف، ترجمې، تصحیح او ډیزاین مصارفو د ارزونې او کموې په موخه یو تولیزه او هر اړخیزه طرحه ترتیب او وړاندې شوې چې له مخې یې د بیروني قراردادونو د لګښت راکمېدو او د اړوندو کارکوونکو د تشویق او پیاوړي کېدو لپاره څو ګزینې وړاندیز شوي چې یوه یې یې د تطبیق وړ هم ګرځېدلې ده.

15. طرح ارزیابی مصارف تهیه نصاب تعلیمی ترتیب و ارئه گریده است: جهت ارزیابی و کاهش مصارف تدوین، تألیف، ترجمه، تصحیح و دیزاین کتب و ممد درسی نصاب تعلیمی یک طرح کلی و همه جانبه ترتیب و ارائه گردیده است که به اساس آن مصارف قراردادهای بیرونی محدود و برای ارتقای ظرفیت و تشویق کارمندان اداره برخی از گزینه ها نیز پیشنهاد شده که از آن جمله یک گزینه آن مورد تطبیق قرار گرفته است.

16. د مشترک مرور برنامې د دوو زونونو راپورونه چمتو او وړاندې شوي دي: د پایتخت زون او جنوب شرق زون راپورونه چمتو او مقام ته وړاندې شول او د نورو راپورونو مسوولیت د نظارت ریاست ته ولیږدول شو.

17. په کاربازار کې د اړوندو فارغانو د استخدام سطحې معلوملو په موخه د لاربښود او اړوندو ډیټابیس چمتو کول: د دې لاربښود له مخې به د برنامو د تحقیق او تضمین کیفیت او د متعلیمنو او محصلینو ریاستونه په مشترک ډول په کاربازار کې د فارغانو د ثبت او ډیټابس چارې پر مخ وړي.

18. د کاربازار د اړتیا سنجونې او تحلیل لپاره په ۱۱ څانګو کې معیاري پوښتنلیکونه برابر شوي دي: دا پوښتنلیکونه د رشتو د ایجاد، ادغام او الغا او همدارنګه نوم بدلولو، ارتقأ او انتقال په برخو کې د اړتیا سنجونې په موخه ترتیب شوي دي.

19. د نورستان په وایګل ولسوالي کې د کاربازار د دقیقې اړتیا سنجونې په نتیجه کې د اداره او مدیریت په څانګه کې یو باب مسلکي انسټیټوټ رامنځته شوی دی.

20. در نیتجه نیاز سنجی دقیق بازار کار در ولسوالی وایگل ولایت نورستان یک باب انستیتوت مسلکی اداره و مدیریت ایجاد شده است.

21. د GIS رشتې د رامنځته کولو په موخه په کاربازار کې اړتیا سنجونه ترسره شوه او په اړه یې تحلیلي راپور اړوند ریاست ته وسپارل شو.

د افغانستان اسلامي امارت
د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره
Technical & Vocational Education & Training
۱۴

22. په نورو ادارو کې د فارغانو لپاره د کار زدکړې او هغوی ته د کاري فرصتونو برابرولو د برنامې طرحه ترتیب شوې ده: د دې طرحې له مخې به اړوند فارغان وکولای شي چې په نورو ادارو کې د کارموندنې او کار زدکړې له فرصتونو څخه استفاده وکړي.